مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوحید وحید

۲۰۲۶/۰۵/۱۰

# د پاکستان بریدونه او د افغانستان مخته پرتې ننګونې

په افغانستان باندې د پاکستان تیری او د بیګناه ملکي خلکو وژنه هغې کچې ته رسیدلی دی چې په غندنو احساساتي څرګندونو، حماسي ترانو او شعارونو باندې موږ ته د اوښتو زیانونو تلافي او د لګیدلو د زخمونو درملنه نه کیږي. له بد ویلو او غندنو څخه تیریږو او د خپلې بېوسي په هغو لاملونو باندې تم کیږو چې افغانستان د پاکستان لخوا بریدونو ته د بالمثل ځواب ورکولو وړتیا سلبوي او په هغو مواردو باندې راڅرخیږو چې بیوسي مو له منځه وړای شي.

متأسفانه زموږ په هېواد کې له تیرو څو لسیزو راهیسي د خپلو او پردیو له لاسه رامنځته شوې سیاسي بې‌ثباتي، عسکري نیمګړتیاو، اقتصادي ننګونو، د بنسټونو کمزورتیاو، په ځانګړې ډول په خپل لاس د خپلو دفاعي بنسټونو او تاسیساتو ویجاړولو د پاکستان لخوا له خوف او هراس پرته بریدونو ته لاره هواره کړه. زموږ حکومتونه اوس د اوږدمهاله او فعالې ستراتېژۍ پر ځای په انفعالي غبرګون، لنډمهاله ګامونو پورته کولو او یا هم په مصلحتي چوپتیا باندې بسنه کوي. د پاکستان لخوا بریدونو ته بالمثل ځواب نه ورکول یوازې په نظامي برخه کې زموږ نیمګړتیاوې نه په ګوته کوي، بلکې اقتصادي، سیاسي او حتی نفسیاتي لګښتونه هم لري، چې زموږ حکومتونه د حساب برابرولو له وړتیا څخه محرومويِ.

نړیواله انزوا هم د پاکستان د بریدونو په وړاندې د افغانستان بنسټیز محدودوونکی فکتور دی. کله چې نظام د نړیوال مشروعیت، دیپلوماتیکو اړیکو او ملاتړ له کمښت سره مخ وي، نو د فعالې کاري دیپلوماسي لپاره اړین امکانات لکه پراخې سفارتي شبکې، اغېزناکه لابي، او اقتصادي وړتیاوې محدودېږي. په دغه شان حالاتو کې حتی که اراده هم موجوده وي، عملي بڼه ورکول یې له خنډونو سره مخ کېږي.

د ځواک انډول بل مهم فکتور دی. پاکستان نه یوازې پوځي برلاسي لري، بلکې په نړیوالو او سیمه‌ییزو فورمونو کې نسبي حضور او پیاوړې اړیکې هم لري. دغه حالت د افغانستان لپاره د مستقیم تقابل لګښت لوړوي، خو دا هم بشپړ تصویر نه دی او د لاس تر زنې کیناستلو لپاره مشروعیت نه برابروي . یوازې محدودیتونه عذر ګڼل، په خپل ذات کې د انفعالي سیاست او زموږ د بې بسې یوه بڼه شمیرل کیږي. موږ د امریکا اسرائیلو لخوا په ایران باندې د سختو بریدونو په مهال ولیدل حتی په محدودو شرایطو کې هم بدیلې لارې شته.

که په ملکي خلکو، روغتونونو او پوهنتونونو باندې د پاکستان د بریدونو موضوع له سیاسي ادبیاتو (غندنو، اندېښنه ښودلو) څخه راوباسو او د تحلیلي ارزونې په دقیق چوکاټ کې یې وڅېړو، نو به راته جوته شي چې د افغانستان او پاکستان ترمنځ تاوتریخوالی د ساده "تهاجم او دفاع" په قالب کې نه ځاییږي. دغه دښمني تر ډېره د نا انډوله رقیبانو ترمنځ د برلاسي ښودلو، کنترول او نفوذ موندلو یوه اوږدمهاله پروسه ده.

په افغانستان کې د امنیت تالاترغه کولو ، اقتصادي او ټولنیزو فشارونو په تراو زموږ د ځینو هېوادوالو په اصطلاح کومې خاصې کړۍ او یاهم وړوکې ډلې ته د پرې ګوته نه نیول کېږي، بلکې په رنګ او نیرنګ کې له توپیر سره سره د پاکستان سیاسي او مذهبي ګوندونو په ګډون د ملکي او فوځي اړخونو په ګډون د هر حاکم نظام د ګډو هڅو او په سیستماتیکو ډول د ټولو اړونده اړخونو ګډ هدف او مسئولیت دی. د اړونده پاکستاني ادارو تاکتیک له مخې په افغانستان کې د وحشتونو او وژنو په هکله یوې وړوکې ډلې، څو نفوذ درلودونکو مشرانو ته د پرې ګوته نیول کېږي او حکومت نظام او سیاستوال سپین چرګان ګڼل کېږي خو دغه تاکتیک دی او واقعیتونه نه منعکس کوي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د پاکستان دغه ستراتيژي څو مهم ميکانيزمونه لري:

**لومړی**؛ د مختلفو کورنيو او بهرنيو لاملونو له امله په افغانستان کې د رامنځته شوې بې‌ثباتي په هکله پاکستان په افغان خاوره کې تل د خپلواکو او ستراتيژيکو پرېکړو کولو فرصتونو ددې لپاره محدودوي چې په افغانستان کې د بشپړ ثبات رامنځته کيدو مخه ونيسي.

**دوهم**، د پاکستان لخوا په افغانستان کې رامنځته شوې د نفوذ څو پوړيزې شبکې چې رسمي او غيررسمي رنګونه، ښکاره او پټې بڼې لري، او د بېلابېلو ملي حساسو مسائلو په برخه کې د تصميم نيونې په بهير اغېز کوي.

**درېيم**، د دې لپاره چې د پرمختګونو بهير سوکه او په مختلفو پړاوونو کې ستراتېژي د نظامونو د نسکوريدو له امله تقاطع ومومي، لومړيتوبونه بدل شي او په اوږدمهاله ډول افغانستان له فشار لاندې ونيول شي، په معاصرو زده کړو باندې د څار او ظرفيتونو باندې د نفوذ لوړول دي.

تر دې هم ژور اړخ ذهنيتونو ته د شکل ورکولو تاکتيک دی. پاکستان هڅه کوي د افغانستان په اړه داسې ذهنيت رامنځته شي چې دغه هېواد په راتلونکې کې د ثبات درلودونکې هېواد پر ځای د مزمنو بحرانونو سرچينه وپيژندل شي. دغه تګلاره نه يوازې په افغانستان کې حاکم نظام له دباو لاندې نيسي، بلکې له افغانستان سره نړيوال تعامل ته د ودې ورکولو په موخه په ډيپلوماتيکو هڅو باندې هم اغېزې کوي.

د پاکستان د پورته يادو شوې ستراتيژۍ له امله، افغانستان د مخته د پرتو ننګونو سره سره لاهم د لوبې کولو لپاره ډير کارتونه په لاس کې لري. کار اهل ته د سپارلو هوډ او د اړينې اجماع رامنځته کول دغه هېواد د مشروعيت او ملاتړ د نشتون له ګرادبونو څخه باسي او د نړيوالې ټولنې په اوږو باندې د بار هېواد څخه د سيال او خپلواک هېواد په توګه د ژوند کولو وياړ ترلاسه کولای شي. په مشخصو اهدافو تمرکز کول له سيمه‌ييزو او نړيوالو ذيدخله هېوادونو سره د ګډو ګټو پربنسټ د انډوليزو اړيکو جوړول، پالل او د خپلو ګټو په اړانه کې انعطافي اړخ خپلول د رغنده ډيپلوماسي نښه او د انزوايي حالت د کمولو لپاره اساسي اړتيا ده. د اقتصادي او ترانزيټي پروژو تدريجي را ژوندي کول د نظام سياسي وزن زياتوي. دا ټول هغه انتخابونه دي چې حتی په محدودو شرايطو کې هم عملي کېدای شي. لنډه دا چې اراده، ظرفيت، او شرايط درې واړه سره تړلي دي. که داخلي بنسټونه پياوړي شي او د افغانستان لخوا د نسبي نړيوال تعامل رامنځته کولو نوښت وشي، د هېواد په اوسني ترپنګلي وضعيت کې هم ښه فرصتونه رامنځته کېدای شي، خو موږ اوس مهال له شته فرصتونو د ګټو پورته کولو ستراتيژي نه لرو.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ